مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهاند دوکتورم.ا. زیار
۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# (بالا- باره) پښتو دي؟

په تاند ووبپاڼه کې مې د تېرې میاشتې پر اتلسمه د نافع همت پر (بالا-باره) وییکو (اداتو) د لنډ ګنډ کښلی کمېنت په ترخ کې د یوڅه ارتې بیرتې کره کتنې نغوته (اشاره) کړې وه، خو متې اوس مې دومره وخت وموند چې د یوه مخامخ دوستانه لیک له لارې ددغه ګرامري توکو یوڅه زیات رڼاوی وکړم او په دې توګه پخپله دده،کمېنت والواو نورو مینه والو د ورانپوهاوي مخنیوی وکړای شم]
ګران او هڅاند لیکوال عبدالنافع همت ته
مخامخ دومر ه نه،خو په رسنیزه اوبجه کې دې له ښایسته ډېر مهاله پېژنم او بیا تر هرڅه له مخه د خپل پښت د ګوتشمېر طنز لیکوالو د یوه مخکښ په توګه،او بیا پر سیمییز کچ تر نظري ورونو راروسته زموږ د زاړه پښت سترګې پر همتا غوندې نوښتګرو زیاتې خوږېږي. همداراز د څه ناڅه عربېزم ترځنګ دې لیکنی لاره لېله اوسبک وسټایل ترډېرو نورو لیکوالو زموږ له نیم پیړییزو ژبپوهنیزو آرونو سره ښه ترا اړخ لګوي: [نه د خپل ګړدود(ښځه راغلل-راغله-Ə) کاږې، نه (و ته) غبرګبل...؛ نه د پارسي (تا) تر اغېز لاندې (څو،ترڅو-چې)اړیکو conjunc-tions () اړیکوییکي، او نه یې د (از)سربل تراغېز لاندې له کابل څخه لیدنه کتنه-ستاینه-مرسته-ملاتړ-مخنیوی، دفاع...] ځر ګندنې (expressions) رغوې او لیکې او همداراز،[نه داردو-انګر ېزي اړیکوییکو (conjucntions)اواړیکنو مځرو (relative pronouns)،لکه: (کوم چې،چېرې چې،کله چې،څوک چې، چا چې ،دچاچې... ] پېښې کوې... او له دې پلوه دې له تربرې پارسی سره د سیالۍ په لړکې راسره له سیمییز (l(loca)) اکر بکره (( یوه-یوازېنې ژبنې )) در یځ) ته د پښتو دلوړېدا په بهیر کې)ښه ترا برخه بنده اخلې!
داچې تازه پر تازه دې دېته راپېیلې چې د لیکوالي او رسنوالي ازمېښتونو په مټ خپله وړتیا او استعداد په ژبنې او پښوییز (ګرامري) ډګر کې هم وازمایې، نو د خپل کندهاري ګړدود دوه پارسي پوروییونو ( loan words)یاپورویيکو(particals) -loan (بالا- باره) دې ترځېړنې لاندې نیولي.که څه هم له ژبپوهنبز- تخنیکي پلوه دومره کره نه برېښي، خو د نړه پښتو، پارسي،عربي یا اردو انډولونو پرتله او پلټنه دې خورا په زړه پورې ده.
د بېلګې لپاره د (نو) زوړ انډول (ترو) یا (تو) موږ د منځنې پښتو ادبي پېر پاتوړې (میراث) په توګه څرګند وو او تا یې د مرو تو په ګړدود او کسرونو کې څرک و کېښ. یا یې نور همچاري دوه درې نور په نورو ګړدودو کې او بیا(تو) ان د اردو اود غالب په پارسي شعر کې- (نو) هم پر خپل وار د( نور) رالنده شوې بڼه ده، تردې چې اوس یې هم ځینې پښتا نه تر ځنګ لړوډېر (نور) هم کاروي یا یې سره راغبرګوي: (نور) یا (نورنو) دغه کار ته اړوتم؛ کټ مټ لکه پارسیوان چې د (پس) ترځنګ (دیګر، دیګه) او(پس دیګه میرم)! وایي!
ګرامري پوهه دې هم په پوره باور له انګرېزي هغه څخه راخپله کړې، که نه زما له پښتوپښویې (او شاګردانو او پلیونیانو له هغو) پرته چې له ۱۳۵۰ل. راهیسې د (اسم-فعل-حرف-مصدر) پر بنسټ ،له مومند بابا (صرف ونحو) اوبیاله ایازي تر رښتینه د کښلیو دودیزو ګرامرونو ځایناسې شوې او په استثنا یې توګه مې له مولوي صالح محمدکندهاري څخه یوازې ((پښویه)) نوَمونه د(ګرامر) لپاره را خېستې.چې لاریمر هم پرخپل وار له کوم پښتو ښوونکي (منشي) څخه رایادښت کړې وه-زموږ پارسیوان تربوران بیا پر دې ویاړي چې (میرزا حبیب اله) یوه پېړۍ وړاندې سوچه پارسي انډول (دستور) رادود کړی دی؛زموږ دودیزو استادا نو یې پر پلیونی (ژبدود) غوره کړی وو، خو بې له دې چې ویې کاروي او رادود یې کا ندې!
هرګوره، زه د نوې ژبپوهنې او پښویې دیوازېنې ټیکه دار په توګه د (نووام چا مسکي) پسرغښتي ژبپوهنې په مخکښۍ له نویوانقلابي لیدتوګو او تیوریو سره د پښتو پښتو ژبپوهنې او په دې لړکې تر ماناپوهنې او وییپو هنې راروسته د پښو یې (دستور، ګرامر) د نښه تاندۍ (update) په پار د څلورم چاپ پر تیار ونه بو خت یم.که ته د کابل او نورو پوهنتونو له پښتو ژبپوهانوسر ټکوې ، نو همدا ما ټیکه دار دغه کار هم کړی: څه له پاسه (بالا) اتیا پښتوګړدوده مې څه د یونسکو د ژبپوهنې اطلس پروژې اړوند او څه په خپلواکه توګه له اسلام کلا تر اسلام اباده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

او بيا له بولانه تر واخانه ، هرګوره، دومره ډېر تخنيکي نه، بلکې د کډوالۍ پر مهال داوړدو اوږدو يونونو په ترڅ کې څېړلي؛ پردې سربېره مې د کابل په ۳۵ کلن او د پېښورپوهنتون په ۳-۲کلن استادي پېر کې له زدکړيالانو هم يوه پاموړه (دېټا) راخوندي کړې ده. خو د دې منښته کوم چې ستاد (باره-بالا) غوندې کوشني وييکي، نه په کاکړستان او وزير ستان کې مخې ته راغلي او نه په بنو او مروتو... کې .

## دا دی،اوس به همستا په اجازه د( بالا-باره) يوڅه ارته بيرته څېړنه در وارزوم:

۱- لومړی به زه درته دا په زغرده ووايم چې ما دخپلې پښويې په مخنيو او بيا يې دربېم چاپ د وييکو يا پارتيکلونو (۱۹۸-)۲۱۴ ) په لړ کې ستا دا نه دي را خبستي او لکه چې پاس يې يادونه وشوه، يوازې د پارسي ځپلې کابلۍ پښتو (څو،ترڅو- څوچې...) او د اردو ځپلې پېښورۍ هغې (څوک چې-چاچې...) تر نيو کو لا ندې نيولي چې ګړسره پښتو مسخوي.

۲- په دې کې څه اړنګ بړنګ نشته چې ستا دغه دوه توکه ياوييکي له آره کند هاري ګړدود له پارسي راخپل کړي او لومړۍ پلا تا له ګړني بهيره ليکني ته را يستي او هممهاله دې د پښوييز-رغاونيز (دستوری-ساختاری) ټوليو( مقولو) په توګه د دواړو چار او فنکشن تر څېړنې لاندې نيولي دي- تر دې چې په اړه يې بل سيمه وال اماتور (غ.حضرتي) درسره په خپل کمېنت کې ګو تې ماتې کړې دي!

۳- په هره توګه، که ته دغه دوه پارسي وييکي(پارتيکلونه) د پښتو هغو ځا يناسي کوې، سبا به يو بل ناڅانګوال، اماتور راولاړ شي او پارسي(اګر، مګر، چون ،چرا)، چندان، چندا نې، نه چندانې، همچنان، بنابرآن، بنابرين...؛ يا عربي (ليکن-امّا، ايضا، لهذا،هکذا،عجالتاٌ، عيناٌ،بعينه، بناأ،علی ای تقدير...، او داسې نورې بې شمېره پارسي، عربي يا اردو ببلګې چې په ببلابېلو ګړدودو کې د ببلابېلو وګړو له خوا په ګړنۍ او ان ليکنۍ پښتو کې کارول کېږي او پر خوار کۍ پښتو او پښويې راتپل کېږي. چې يوه نازغموړه ببلګه يې د حضرتي صا حب ملايي وزمه شيروشکر پښتو ده او دنورو ((درفشانيو)) په لړ کې يې ژبه د (کو لتور) يوه برخه بللې:

((زما يو دوست کيسه کول چه په کوم باندار کې چې... د پکتيا برادران هم وه.خبره تر لهجو پوری ورسېده پکيتيا وال ورور زما کنداری دوست ته وويل چه کنداريان ښه آسانه لهجه لری يعنی کله چه څاه ته هم ور کوزيږی نو وائي چه زه بالا څاه ته ور کوزيږم.زما په نظر د پکتياوال ورور د دې ذهنيت علت دادی چه بالا په هره غير کنداری ژبه(!) کی د لوړ يا پاس مفهوم لری نو ځکه يو غيرکنداری ته بالا (پاس) څاه يا زېر خانې ته کوزېده د حيرانتيا او تبسم خبره ده.لکه چه حوصله مې ختمه شوه...[خو ستر حمزه دعه شان عربېزم شاعرانه کړی:

ستا په تبسم مې حوصله وکړه_اوښکو بوګنېدلو مې شببه وکړه ]

بيا ليکي،په عمومی محاوره کی ځينی (لغاتونه) فقط د ښار د باندی سيمو يعنی اطراف کی کارول کېږی او د ښار اوسېدونکو ته هغه لغاتونه چندان آشنا او مأ نوس ندی او برعکس يو لدغو کلمو څخه( باره) او (بالا) دی ،د ښار اوسېدو نکی( بالا ) وائي خو د( باره) سره چندان او يا هېڅ شناخت نلری خصوصاً د ليکنی په نړۍ کی اصلاً دا دوې کلمې په رسميت نه پېژنی او که په کومه ليکنه کی مثلاً( باره) يا( بالا ) وليکل شی. د واده د د شپې د ښکلی لباس د لنډې نېکټائي لنډې لونګۍ حيثيت به ولری... ))!

او تا پخپله هم دا منښته کړې: په کندهارۍ لهجه کې کله کله د (باره) تر څنګ د (نو) کلمه هم راځي!

په دې کې خو څه اړنګ بړنګ نشته،هماغسې چې د ننګرهار خواته هندي پور وييونه (مستعار لغات) ډېر دود لري، دغه راز د کندهار خواته پارسي هغه، نو د حضرتي صاحب د پکتياوال برادر پر ټوکه به چې ما له يوه ننګرهاري شاعر (س.س) برادره رايادښت کړې،هم ورسرباري کړم چې وايي:

((د سېبي تر سايې لاندي مي پشه پورته کړه، شاشې مي وکړي))!

په دې لړکې به، لکه پاس چې ورته نغوته وشوه، له بده بتر د کابلۍ پښتو (څو،تر څو-چې// ... څخه(نه )کتنه، ملاتړ،ستاينه، دفاع ، مخنيوی...)او د پېښورۍ هغې (څوک چې، چاچې،کوم چې،چېرې چې، د کومو چې ...) د راتپلو پلمه هم برابره شي او بياداستاد بېنوا خبره شي چې په (اوسني ليکو ال ۱۳۴۶-۱۳۴۱)کې يې د کوم ليکوال له خولې ليکلي دي:

((دومره سوچه پښتو څه په کار، چې (پياده) وي، ولې (پلی) ووايم يا وليکم؟

اکر(حال) داچې پارسي سرچپه د عربي پورويېونو په لړ کې دغه راز پښوييز وييکي (واژک های دستوری) ورځ ترورځې راپارسي کوي،لکه تنويني کړولونه: مثلاٌ(به ګونۀ نمونه)؛ لهذا-بناأ(بنابرآن، پس)؛ (کاملاٌ ( يکسره، همګی)؛ فوراٌ (زود-زود تر-به زودی)؛ به هر صورت-وعلی ای تقدير(هر آينه،به هرروی)؛با وجود معهذا(با آنهم، رو يهمرفته)... .

۴- داچې بالا-باره ) دواړه پارسي آره (ريشه، منشأ) لري،نود پښوييزې ټولۍ grammatical cate (gory) په توګه يوازې په کندهارۍ ګړدودي پښويه کې ارزښت درلودای شي، هغه هم چې ترڅنګ يې په همدغه ګړدود کې نږه پښتو انډول (نه) نه وي، او تا يې پخپله د شتون منښته کړې!



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

( (د... په باره کې) وييکغونډ(پارتيکل عبارت) هم د کندهاري ليکوالو له خوا د پار سي (درباره) انډول په توگه په ليکنۍ پښتو کې رادود شوی چې موږ يې نږه انډولونه (په اړه، په تړاو...) ځاينا ستی کړي دي
۵- څنگه چې پښويه له آره د توکو په تېره وييکو، له مانا سره کار نه لري، بلکې پرځای يې له چار(فنکشن) نومَونې کار اخېستل کېږي، د ساري په ډول اړيکو ييکي (که-نو،خو-نو،چې-...،يو- بل، يوخوا-بلخوا، که څه هم-بياهم...) او همدا سې ته هم نه شې ويلای چې (بالا) يا(باره)کلمې دا مانايامناوې،بلکې دا وييکي (ادات،پارتيکلونه) داچار ياچارونه لري يا ترسره کوې!
۶- هماغسې چې په نوموتيو اروپايي ژبو (انگرېزی، المانی، فرانسی، رو سی...)کې يوازې يو سراسري گرامر د ټوليز (عام) کارو نگ په موخه رغول کېږي،دغه راز له ۱۹۳۶ د(( يوازېنۍ ملي-رسمي)) ژبې له قانوني کېداسره د دا سې يو سراسري پښتو پښويې پيلامه په خپله جوله کې رانښلول شوې او شل دېرش کاله را روسته يې دکابل پو هنتون دادبياتو پوهنځي داډانې دننه پښتو څانگه کې د نوې ژبپوهنې له دودېدا اود(يوې پښتو- يوازېنۍ- کره پښتو) له غورځنگ سره همهاله و ورو ورو د وسمهالې پښتو پښويې بهير هم را منځته کېږي. ترڅو د پېنځوسمې لمريزې لسيزې له رابرېدا سره ورته ما تر ازما ينتي لکچرنوټونو روسته پرلغښتې (سېستماتيکه) کتابي بڼه ورکړه او پرلپسې کره شوې نېټه تاندې (update) بڼې يې تر دې دمه چاپ ته سپارل کېږي.
په دې ډول ټوليزاو ټولگټی گرامر لکه د اړوندې ژبې ((اساسي قانون)) د بېلابېلو څېرمه هغو لپاره يوه سرچينه يا رېفرنس گرځي، لکه واخلې، د منځنيو او لوړو زدکړو او يا ژبنيو زدکړوځو (کورسو) لپاره؛خو گړدودي، يا د بېلابېلو برخو ( نو موال، کړوال، وييکوال...) هغه، له آره د اکاد ېميکو لېوا لتيا وو په موخه ليکل کېږي. هرگوره، په هرو څو کلو کې نوې نوې خبرې او بد لنونه، په تېره گړد ودي هغه ټوليز گرامر ته ورلېږدول کېږي.
يوه بېلگه يې پر ۱۳۵۵ ل.د استاد حبيبي په مشرۍ زموږ د پوهنځي په غونډه کې زما او ډاکتر لودين د وړاندې شوي (←معياري پروسېجر) له هوکړې سره ډېری گډونوال دې پرېکړې ته ورسېدل ، په دې لامل چې (کښې) په ډېری گړدودو کې پر (کې) او ښتی،همداراز د شمال ختيځ (چه)او غلجايي (څه-څې) کره بڼه (چې) راځي. په دې ډول په نومهالې ټوليزې پښتو پښويه ستا او زما، دده او هغه ټولوگړدودو استازي کوي، نو ستا گيله يا داوه، هغه هم بيا د ناپښتو وييکو
په تړاو قانوني نه گڼل کېږي!
يادښت:اړوند پروسېجر له لويه سره پر دوو بنسټونو ټيکاو لري:(۱) پښوييزه- رغاونيزه يورنگي، لکه له بشپړ تېرمهال (ورسېدئ، ورسېدو، ورسېدلو...) گړدودي ځېلونو (وارينټونو) څخه (ورسېد) کره بلل کېږي او (۲) وييپانگيزه (لغوي) رنگارنگي چې د گرامر پرخلاف پکې له غورځاوي او غوراوي (طرد وانتخاب) کار نه اخېستل کېږي، بلکې ډېر کمپيښي نږه وييونه يې راخپلېږي ،ځکه د څلورگونې معياري وييپانگې ) (vocabulary د ژوندۍ کارېونکې ٪ ۲۵ برخه (دايکلتېزمونه) رغوي چې دويمه ٪ ۲۵يې (ارکاييزمونه)، درېيمه٪ ۲۵يې نيولوجېزمونه او څلورمه٪ ۲۵يې (فارنېږمونه) رانغاړي- نو که ته نوموتي انگرېزي فرهنگونه، لکه وېبستر يا اکسفورډ هغه راواړوي، همدا څلور سره پا نگه به پکې ونومېرلای (تشخيص کړای) شې. له ښه مرغه زموږ نيم پېړييز معيا ري بهير هم دغه ازمايل شوې لارورَوده پر مخ اخېستې او اغېز وپايلې يې ترتا پورې ډېر ليکوالو ته رسېدلې او د گران کيسه ليکوال زرين انځور خبره، چا ته چې نه دي رسېدلې او ځنې گوښه پاتې دي، او لا تر اوسه ټول زور پر پارسي -عربي-اردو- انگلسي پوروييونو (واموا‌ژه ها) اچوي،په ((کلاسيکو)) ليکوالو کې راځي. د پوره پوهاوي لپاره←.[پښتو ليکلارښود۱۴-۹) ۱۳۸۶]
۸- په ژبپوهنه کې (بالا) او (باره) ستا له خپلو بېلگو سره سم، له لويه سره دواړه اړيکوييکي يا حروف ربط (Conjunctions) بلل کېږي، نه تړوييکي (حروف عطف). دابېله خبره ده چې په ترڅ ترڅ کې څه راز اړيکي يا تړاوونه ترسره کوي: کړولي (قيدی)، بشپړ نيز (متممی)،لاملي (علتيه)، شرطيه، همغږي،اړو پېچ (مخا لفت، ضديت)،پرا ختيايي (توسعوی)، ټينگاري (تاکيدی) ...، په نورو ټکو، دغه چارونه په څېرمه ياضمني توگه را نغاړي.نو په دې ډول ستا په خپلو وړاندې کړو بېلگه يې غونډلو(جملو) کې، نه (باره) د(نو)،(روسته)، (خير) يا په بل پښوييز چارکې د تړوييکي (عطف ) چار پرځای کوي،او نه (بالا)!
لومړی به دې د(باره) دالاندې بېلگه در وشنم:
بازار ته ولاړم چي کور ته سودا واخلم، خو بازار تړلی و، (باره) بيرته کورته راغلم.
لومړنۍ څلورگونې غونډلې يوه گډه (مرکبه)غونډله ده: دويمه آره او ترې مخکې يوه يوه او روسته دوې څېرمه (تابع) يا (سبارډينېټ کلاز) بلل کېږي،او(چې-خو-باره) يې ترمنځ اړيکوييکي(conjuctions) ؛مانا يې داچې (باره) هم دغلته ورته چار پر غاړه اخلي او بيا هله کړولي اړيکوييکيز کړول (conjunctive adverb) . ځکه (نو،اخير) لاملي (causative conjunction) هم نورڅه نه دي!
دويمه بېلگه: احمد ښکنځل راته وکړه، ما څه نه ورته وويل، دوهم (دويم) واربيا) يې ښکنځل راته وکړه، (باره، آتي، زياتي، ستي، اخير) ما هم داسي جواب ورکړ چي تل به يې ياد وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

دلته ړومبۍ دوې غبرګونډلي یا جوړه جملي راغلي: ( احمد ښکنځل راته وکړه، ماڅه نه ورته وویل) د زنځیري ګړ ( سېګمېنتال مورفیم)،لکه ((خو)) پرځای ناز نځیري ګړ ( پرا سېګمېنتال مور فیم) هغه، یاني لنډه لارغه (مکث) راغلی چي لیکنبه یي نګښی یاکامه(،) ده،او د دویمي غبرګونډلي یا جمله یي جوړي ورسره دشمېریز کړول (عددي قید) یاني ((دویم وار)) او کړولي وییکي ((بیا)) په مټ اړوندي پیداکړي- دغلته هم ړومبنی ملي غونډلي (تابع جملي) له وړپسي رو ستی ملي غونډلي سره د (باره،اتي،زیاتي،ستي، اخبر...) په مټ تړاو موندلی دی- او همداراز (نو) او (چي) په((زه نو ستا غوندي بې غیرته نه یم چي د مړو ستر ګو ډوډۍ ته کښېنم)) جوړه کي درواخله!
دویم-د (بالا) دالاندي بېلګه به داسي دروشنم:
ځیني لیکوالان ( لیکوال) فکر کوي چي (بالا) د دري ژبي د لوړ (بلند) مانا ښندي، خو حال دا چي دا کلمه پښتو(!) ده او زماني قید(Adverb of Time) بلل کېږي... [پوره تخنیکي نومَونه یي مهالکړولي اړیکوییکی (temporal adverbial -conjunction)]:
۱: داچي دغه وییکی دې له څومره ییز کړول یا مقداري قید ((نور)) چار سره په پېنځو یووستوو غونډ لو کي را ښوولی، کومه خرخشه پکي نشته، لکه: زه بالا (نور) ستا سره شراکت نه کوم او داسي نورې؛
او همدارنګه دي چي له غځندکړول یااضرابي قید(پاو...بالا) چار سره په څلورو یووستوو غونډلوکي راڅرګند کړی، هم کوم اړنګ برنګ پکي نشته، لکه:
اوس (پاو بالا) لس بجي دي، یا په ارته یووستي غونډله کي: احمد ته د خپل پلار له میراث څخه په (پر) یوه کور (بالا) سل جریبه ځمکه ور ورسېده ... هم همداسي درواخله!
خو بیا هم زه کړي خبره بیا راغبرګوم چي ((اوبه وي، تیمم ته اړتیانشته)) یاني درسره په لړي نژدې ګړدودو کي یي سوچه پښتواندولونه د ټولیز ګرامر لپاره شتون لري،لکه: (نور)، (څه له پاسه)، (سربېره)... !
د ژب-ټولنیزې مرستي بلنه
تر ټولو ستومانوونکو خوړو ترخو له تا څخه د یوه وتلي لیکوال او رسنوال په توګه دا تمه ډېره کېږي چي د هسي پېچلو تیوریکو ځانګوهېزو (تخصصي) لیکنو څېړنو پرځای د داسي دوو اړینو (ژب-ټولنیزو (سوشل-لنګوېستیکي) ربړو (پرا بلمو) په هواري کي خپلی هلی ځلي راسره شریکي کړې چي تر بلي هرې ژبي یي، د هېواد له دویمي، خو برلاسي سرکاري (پارسي ) سره د پښتو د سیالی بهیر مخه سخته را ډپ کړي ده او هغه دادي
(۱) د (یوې کره پښتو) نشتوالی چي د یوه ګرسره ځانتنی (منحصر بفرد)څجیوهني (اکسنتو لوجی) اړوند((واوېلي بدلون) ) سوېل- لوېدیزه ګردودي ډله یا په لنډو ((کندهارۍ پښتو)) یي د نورو درو ډلو پر وړاندي درولي) او دغه ژبټولنیزه ارما نی چاره یي له خنډ وځنډ سره مخ کړې؛ نو که وکړای شي، له نورو دروګړدودي ډلو سره لږ تر لږه د(یاګانو) د یو((لیکدودي)) هومره جوړجاړي او یووالي په هاند و هڅو کي یوه برخه واخلي؛ او داهغه څه دي چي د ناروېژي ژبي ((Double Standard)) غوندې د((دوه غبرګو معیاري پښتوګانو)) مخه سم له لاسه نیولای شي. که نه، په څو (کمین) کي ناستو بېلتونپالولړکیو لپاره د خپلی ژبی د ((یو مخیزی)) ځایناستی)) پلمه لا ښه ترابرابرېدای شي!
(۲) د دویم آرو معیار پر بنسټ له پارسي هغي سره څلورویپانګیزه نا برابري یا نه سیالي ده، چي تر پولي اخوا بادارانو یي د ژبپوهانو او ټولنپوهانو له دې

(خطر زنګ) سره سم : هماغه ((غورې لیکنی ژبې)) له ورکاوي رابچېدای شي چي د پرلپسي پرمختلونکي علمي- فرهنګي او ورسره تړلي بربښناییز (الکترونیکي) جاجونو(مفاهیمو) له راخپلولو سره اړخ و لګولای شي، نو یاده پانګه پرلپسي غځوي او زموږ دي ګوډاګیانو ته یي پرلپېلي راصاوروي!
په دې توګه یي نن سبا د څلورګوني پانګي د اندول په موخه د ځانګړو سرکاري ((فرهنګستانونو)) نویزونه یا( نوواژه ها) او (دانشواژه ها) تر میلیونونو تېرې کوي چي پښتو دایي په زکات کي هم نه راځي!
یوه کوښنی بېلګه یي د مایکروسافټ د سپاربښتني له مخي د مخابراتو وزارت د(کمپیوتر ساینس) د منصور انصاري تر اداري لاندې زما اواستاد صمیم د درې زره پښتو اندولونه دي، حال داچي کمپنی رالبرلي هغه څه له پاسه شپږ لکه کېږي یا کېدل ، او. د اړوند لس ژبیز( انګلېسي،روسي، عربي... )ګر وپ په لړکي نهمي پارسي ژبې هغه ګردې راژباړلي او پر کار اچولي دي؛ تر دې چي لاسپوڅو یي زموږ د دغودرې زرو د دودونی مخه هم راډپه کړه !

**ستااو نورو پښتو مینو لیکوالو او رسنوالو مننډوی زیار**

**پوهاند دوکتورم.ا. زیار**
**اکسفورډ، ۴نوېمبر۱۸**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ